د اسنادو سپارلو لاربنود

ټولو هغو کسانو ته چي په شرايطو برابر وي، خبر ورکول کېږي چي د ۱۳/۱۲/۱۴۰۱ نېټي څخه تر ۲۳/۱۲/۱۴۰۱ نېټي پوري د غوښتنو فورمونه په انلاين ډول د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له ويبپاڼي او يا هم د دې وزارت د بشري سرچېنو رياست د ګمارني له آمريت څخه ترلاسه کړي او د فورم ډکولو او ورسره د اړينو اسنادو له يو ځای کولو وروسته دې د بشري سرچېنو رياست د ګمارني آمريت ته وسپاري او يا دې هم په ((hr.recruitment.motca1@gmail.com)برېښناليک پته راوليږي.

د يادوني وړ دی چي د برېښناليک له لارې د رالېږونکو اسنادو حجم دې له ۵ابم بي څخه زيات نه وي او د غوښتن پاڼي له ډکولو پرته د نوماندانو غوښتنليکونه د باور وړ نه دي.

غوښتونکي دې لاندې ټکي په پام کي ونيسي:

۱- د نوماند غوښتنه يوازې د فورم ډکولو په صورت کي د باور وړ دی او له سي وی پرته د غوښتن پاڼي ليږل د باور وړ نه دي.

۲ - د کارموندني په فورم کي د برېښناليک پته ليکل حتمي دی.

۳ - تحصيلي اسناد بايد د لوړو زده کړو له محترم وزارت څخه تائيد شوي وي.

۴ - که چيرې نوماند دولتي کاري تجربه ولري، بايد سوانح يي چي له شپږ مياشتو څخه زياته موده پرې نه وي تېره شوي، د اړوند ارګان څخه تائيد وي او که خصوصي سکتورونو کي کاري تجربه ولري، د کاري قرارداد يوه کاپي، د مالیي ورکولو له فورم سره يو ځای دي په ياد شوي پته راوليږي، له تصديقنامو، ستاينليکونو او نورو ورته اسنادو له رالېږلو دې ډډه وشي.

۵ - د نوماندانو بهرني تحصيلي اسناد بايد د لوړو زده کړو وزارت لخوا ارزول شوي وي، غوښتنونکي دې د تحصيلي او ارزول شويو اسنادو يوه يوه کاپي له غوښتن پاڼي سره يو ځای راولېږي.

۶ - که چېرې د نوماندانو تحصيلي او کاري اسناد جعلي يا شکمن وي، د موضوع له روښانه کېدو وروسته به نوماند د هماغه بست د سيالی له بهير څخه وايستل شي.

۷ - د نوماندانو د هغو اسنادو کاپي چي تاسي يي وړاندې کوی، بايد روښانه او د لوستو وړ وي.

۸ - د فورم سپارلو څخه وروسته په جلا توګه هيڅ ډول اسناد نه منل کېږي.

۹ - د برېښناليک له لارې د اسنادو لېږلو پر وخت د برېښناليک په عنوان کي د بست نوم ذکر کړئ، له دې پرته ستاسي غوښتنه نه منل کېږي.

۱۰ - که چيرې د يادو بستونو لپاره نوماند د پروسې په بهير کي له واسطې او يا د مقررۍ لپاره دې ته ورته اعمال ترسره کړي، نو له يادې پروسې به وايستل شي.

۱۱ - که په غوښتن پاڼه کي ناسم او له حقيقت پرته اسناد او معلومات وليکل شي، غوښتونکی به د سيالی له پروسې څخه وايستل شي.

۱۲ - د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت، کار اهل کار ته د سپارلو او د وړ او مسلکي کسانو د ټاکلو ته ژمن دی او د هوايي چلند له انستيټيوټ څخه فارغ شوي کسان به له کاري تجربې پرته هم په دې پروسه کي شامل کړل شي.

ښاغلي غوښتونکي کولی شي چي د اړتيا پر مهال له لاندې شمېرو سره په اړيکه کي شي:

۰۷۴۴۴۳۲۲۹۹ - ۰۷۸۴۰۶۰۷۰۸

په درنښت

د ګمارني آمريت

د بشري سرچېنو رياست

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت

رهنمود تسلیم دهی اسناد

به اطلاع تمام واجدین شرایط رسانیده می‌شود اینکه از تاریخ 1401/12/13 الی 1401/12/23 به‌طور آنلاین فورم های درخواستی معیاری را از وب‌سایت وزارت ترانسپورت و هوانوردی، دانلود و یا از آمریت استخدام ریاست منابع بشری وزارت ترانسپورت دریافت نموده، فورم های درخواستی خویش را بعد از خانه پری همراه با ضمیمه اسناد لازمه قبل از ختم میعاد اعلان به آمریت استخدام، ریاست منابع بشری، وزارت ترانسپورت و یا ایمیل آدرس (hr.recruitment.motca1@gmail.com ارسال نمایند.

قابل‌ذکر است که حجم اسناد ارسالی بیشتر از MB5 نباشد و درخواستی کاندیدان محترم بدون خانه پری فورم معیاری درخواستی مدار اعتبار نمی‌باشد.

متقاضیان محترم موارد ذیل را در نظر بگیرند:

1. درخواستی کاندیدان تنها در صورت خانه پری فورم معیاری مدار اعتبار می‌باشد (ارسال CV بدون فورم درخواستی مدار اعتبار نمی‌باشد).

2. درج ایمیل آدرس در فورم کاریابی حتمی می‌باشد.

3. اسناد تحصیلی باید تایید شده وزارت محترم تحصیلات عالی باشد.

4. تجارب کاری درصورتی‌که دولتی باشد، فورم خلص سوانح تایید شده که میعاد زمانی آن بیشتر از شش ماه نگذشته باشد؛ و درصورتی‌که تجارب کاری در سکتورهای خصوصی و مؤسسات باشند، کاپی قرارداد کار (و فورم مالیه دهی) ضمیمه شود. از ارسال تصدیق‌نامه‌ها، تقدیرنامه‌ها و سایر اسناد اضافی خودداری نمایید.

5. اسناد تحصیلی خارج مرز کاندیدان محترم باید از جانب وزارت محترم تحصیلات عالی ارزیابی گردیده باشد و کاپی اسناد تحصیلی و کاپی مکتوب ارزیابی ریاست انسجام امور اکادمیک وزارت محترم تحصیلات را یکجا ضم فورم درخواستی نمایند.

6. هرگاه اسناد تحصیلی و سوابق کاری کاندیدان جعلی بوده یا مشکوک به نظر برسد بعد از روشن شدن موضوع کاندید فوق از پروسه رقابتی همان بست حذف می‌گردد.

7. کاندیدان محترم کاپی اسنادی را که ارائه می‌دارند، باید روشن و خوانا باشد، در غیر آن، ناقص ارزیابی می‌شود.

8. هیچ‌گونه اسناد جداگانه بعد از تسلیمی فورم درخواستی پذیرفته نمی‌شود.

9. در صورت ارسال اسناد از طریق ایمیل، در قسمت عنوان ایمیل، نام بست را ذکر نمایید. در غیر آن از پذیرفتن درخواستتان معذرت خواسته می‌شود.

10. هرگاه متقاضیان بست های خدمات ملکی در جریان پروسه تعیینات با استفاده از واسطه و اعمال‌نفوذ در تقررشان اقدام نمایند از اشتراک در پروسه رقابتی همان بست محروم می‌گردند.

11. درصورتی‌که اسناد و معلومات نادرست و خلاف واقعیت درج فورم گردیده باشد متقاضی از پروسه رقابت اخراج می‌گردد.

12. وزارت ترانسپورت و هوانوردی، به‌منظور سپردن کار به اهل کار و انتخاب افراد شایسته و مسلکی، در نظر دارد تا آن عده متقاضیان محترم که از انستیتوت هوانوردی فارغ گردیده‌اند بدون در نظر داشت تجارب کاری می‌توانند در پروسه اشتراک نمایند.

متقاضیان محترم می‌توانند در صورت ضرورت به شماره‌های ذیل (0784060708- 0744432299) تماس گرفته حل مطلب نمایند.

با احترام

آمریت استخدام

ریاست منابع بشری

وزارت ترانسپورت و هوانوردی